مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۱/۰۷

غزل

ژوند خو دلته د رښتینو پر سر پنډ دی
هسې وایي چې د دروغو مزل لنډ دی

چې حرام نه خوري هماغه خراب شوي
سپېڅلتوب ورته د خپلې لارې خنډ دی

وړي تږي د محشر توښې ته ناست دي
لور سرتوره پښې لوڅې زوی بربنډ دی

معنویات یې دې مادي باد کې پسکې ده
پردي څه کړې چې خپل ورور ور سره ټنډ دی

دا خو ځکه د کاروان دوړو کې ورک دی
باور وخت سره په تلو کې کړی ځنډ دی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ